محمد ایاز نوري آزادي

۲۰۱۷/۰۶/۱۸

# د ډاکتر مصطفی آریامل وړاندیز پاچا لور اندیا د مؤقت حکومت لپاره




تولو درنو افغانانو ته پس له سلام او خپل درنښت څخه او په اخص ډول محترم افغان شخصیت ډاکټر مصطفی آریامل صاحب، ستاسو لیکنه ۱۷ د جون د «بحران افغانستان عزیز و راه های نجات» تر عنوان لاندي، افغان جرمن آنلاین، ما ولوستله. معلومېږي، چي تاسو لکه یو افغان فرد د ګران افغانستان ننی غمیزې ته په یوه ژور پام او اخلاص قلم را اخستی، په یو طبي مثال او پر متحده ایالاتو د سپتمبر ۲۰۰۱ز کال د خونړي یرغل سره په پرتله او د حل لار مو په هغه خپل ملي مسوولیت خپلو خلکو او نړیوالو ته مخته کړي دی. تاسو په ۲۵ مادو کښي په حقیقت لید سره د هیواد د حاضر ډېر خواشینوونکي حال او احوال انځور بالخصوص د ۲۰۰۱ز کال د بُن د کرغېړن او فرمایشي کنفرانس څخه تر نن پورې د کورنیو عواملو په کتنه کښي را سپړلای دئ او بیا مو د حل د لارې تر عنوان لاندي خپل وړاندیز څه داسی وړاندي کړی دئ:

«براي حل چه باید کرد:
سقوط دادن دولت توسط اعمال خشونت آمیز راه خیر و صواب نیست.
وطن عزیز ما تراژیدي هاي متعدد ناشي
ازکودتا ها را متحمل شده است.
رهبري دولت در موقف نهایت حساس و سرنوشت ساز قرار دارد.
جنابان داکتر اشرف غني و عبدالله عبدالله بار ها از إیثار و فداکاري هاي قواي نظامي، امنیت ملي و همه افرادي که در آن ساحات کار میکنند ستایش و تقدیر پرحرارت به عمل آورده اند. میتوانم از آن جنابان بپرسم که نوبت به فداکاري شما چه وقت خواهد رسید؟
مردم شما را انتخاب کردند تا براي شان خدمتگار و راستکار باشید.
مردم حق دارند که از شما سلب اعتماد کنند و از راه هاي دیموکراتیك شما را از اریکهء قدرت بیرون اندازند.
پیش آنکه کار به آن سرحد برسد(امیدوارم که سیرحوادث به خشونت نیانجامد)، به لحاظ خدا و وطن، راه را براي انتقال قدرت آماده سازید و بنام رهبران فداکار ثبت تاریخ شوید.
اعلان حالت اضطراري و برگزاري انتخابات عمومي و پارلماني به أسرع وقت نیز یك راه حل دیگر خواهد بود.
راه دیگر اینکه یك رهبري را سراغ نمائیم که اکثریت قاطع مردم به او اعتماد داشته و به حیث طلیعه اتحاد، ملت از او دعوت نماید که کشتي طوفان زدۂ مملکت را رهبري کند.
آن شخص که محبوب القلوب همه است عبارت از هندیه در'افغانستان دختر خجستۂ اعلي حضرت غازي امان الله خان است (امیدوارم خواب ندیده باشم).
آرزومندیم که ایشان از صحت و توانایی فزیکي خوب برخوردار باشند، تا به التجاء ملت در وقت ضرورت لبیك گفته بتوانند. اگر بحران فعلی دوام یابد و شکست حضور امریکا و ناتو را محتمل گرداند، در آنصورت ناتو به رهبری امریکا در صدد تغییر رهبریت ناکام موجودۂ افغانستان خواهند شد و در حیرتم که چه معجون دیگری به ارمغان خواهد آمد!!
در آخر باید گفت که تا بحال، قدرت های بیرون مطابق به دلخواه شان برای ما رهبر تراشیدند.
حالا کارد به شاهرگ رسیده و باید یك رهبری مطابق قد و اندام وطن خویش برگزینیم.
با احترام»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکي په خیر و لولئ

محترم آريامل صاحب! تاسو خوب نه دئ ليدلى، پاچا لور انديا(۱) جان ( د افغانستان ) زمونږ د تاريخي افغانستان يو وياړ، زمونږ د ملت د يوه قهرمان اعليحضرت غازي امير امان الله خان (رح) لور او يو ننى ژوندى واقعيت دئ. زمونږ د ملت د وحدت لپاره دا ارجمند شخصيت يو غوره چانس او امکان کېدلاى شي. زما د وروستۍ اطلاع پر بنسټ، چي تفصيل يې ما ۱۴ د جون پخپل فيسپانه کښي خپور او کاپي يې د حاضري ليکني په لاندي برخه کښي ګورئ، اغلي پاچا لور فعلاً په ګران هيواد دننه د کابل ښار کښي استوګنه ده. پاچا لور انديا ( د افغانستان ) يوه ښايسته او ارزښتناکه کانديده د يوه مؤقت حکومت د مشرتوب لپاره کېدلاى شي، قدم دې نيک وي. زه همدلته په محترم فعلي ولسمشر محمد اشرف غني صاحب دا غږ کوم، چي ستاسو په دغه فدا کاري مو د خپلي استعفاء، تاسو کوم څه له لاسه نه ورکوی، بلکه ډېر څه په لاس راوړی. دلته زمونږ د ملت د ژغورلو عظيمه مسئله مطرح ده او زمونږ افغانانو فکر پرې بوخت دئ او بحث پرې کوو، بناً د هر مسوول او وطنپال افغان دنده ده، چي موضوع سره په يوه ملي اخلاص، ملي مسووليت او سربښندني چلند وکړي.

زما ليکونکي د فيسبوک پاڼي څخه کاپي

محمد اياز نوري آزادي
۲۰۱۷/۰۶/۱۴

## «يو اماني خبر»

درنو افغانانو، السلام عليکم و رحمت الله و برکاته



زما وروستى انځور د پاچا زوى سره جينواء کښې ۲۰۱۳ کال

د معمول سره سم مې لکه يو ملي مکلفيت د اعليحضرت غازي امير امان الله خان (رح) پواځيني ژوندي زوی ډاکتر صاحب احسان الله خان (د افغانستان) حضور ته د هغه کور د سويسزرلند د جينوا ښار ته فون وکړ، چي احوال يې واخلم. پخواء به د درانه پاچا زوی او زما داسی معمول وه، چي ما به تر دريو يا څلورو زنګونو پورې صبر کاوه، د نه ځواب په صورت کښي به ما مؤدبانه فون قطع کاوه، او بيا به والاحضرت زما د فون نمبر د ليدو څخه بېرته ماته فون کاوه. دا وار نه چا فون واخيست او نه جناب بېرته فون وکړ، تشويش مې زياد شو. په تعقيب مې پاچا لور انديا صاحبې ته روم د ايټاليا ته فون وکړ، هلته هم چا د فون ځواب رانکړ، تشويش مې لا ډېر شو. بيا مې پاچا لور ناجيه جان ته د ترکيې استانبول ته فون وکړ. له نيکمرغه کشرۍ اماني پاچا لور سره مې خبرې وشوې. هغې وفرمائيل، زما ورور احسان جان خو په روغتون کښي بستري شوی دئ، د سا باسلو په سيستم کښي لږ ستونځه لري او د مؤظف طبيب توصيه دا ده، چي هغه بايد روغتون کښي تر کنترول لاندي وي او خور مې انديا جان هيواد افغانستان ته تللي او اوس په کابل ښار کښي استوګنه ده. بيا مې زړه دومره تسلي شو، چي ګران پاچا زوی ژوندی دئ. جناب احسان الله خان په کال ۱۳۰۶ هجري لمريز کال د کابل په شاهي ارګ کښي زېږېدلای دئ او اوس پوره ۹۰ کلن دئ...!! د روغ صورت دعا به ورته وکړو.

د موقت حکومت لپاره د غازي لور انديا ( د افغانستان ) اجرائيوي تيم څه داسی درښئيم:

۱ -محمد ظريف امينيار
۲ -محمد خوشحال آصفي
۳ -نيک محمد کامراني
۵ -حبيب الله رفيع
۶ -محمد صديق نورزوی
۷ -محمد انور آځر

---


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

۸ -رمضان بشر دوست
۹ -سید مسعود کابل پوهنتون استاد فعلاً
۱۰ -فیض محمد ځلاند
۱۱- مصطفی آریا مل
په مینه او درنښت

۱) پاچا لور اندیا «د افغانستان» په یوه افغاني غونډه کی وویل، زما نوم هندیه ندی بلکه اندیا دئ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ